# الله جل جلاله خوښ ګڼي چې له رخصتونو څخه يې ګټه واخيستل شي، لکه څرنګه چې له عزيمتونو څخه يې ګټه اخيستل کيږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الله جل جلاله خوښ ګڼي چې له رخصتونو څخه يې ګټه واخيستل شي، لکه څرنګه چې له عزيمتونو څخه يې ګټه اخيستل کيږي».

[صحيح دی] [ابن حبان روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: الله جل جلاله خوښوي چې له هغو رخصتونو څخه يې ګټه واخستل شي چې روا کړي يې دي لکه په احکامو او عباداتو کې تخفيف او د عذر پر مهال په مکلف باندې اسانتيا راوستل - لکه د لمانځه قصر او يا په سفر کې - د لمونځونو - جمع کول. لکه څرنګه چې خوښ ګڼي عزيمت يې پر ځای شي لکه واجب کارونه، ځکه په رخصت او عزيمت دواړو کې د الله تعالى حکم يو دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65017